SHARIAT
شریعت
په اوونی کي دوه ځله خپرېږي
دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارګان
پنځم کال شپږ شپیتمه ګڼه پرله پسې (۳۵۳) سه شنبه د۱٤۲۱ هـ ق کال دجمادي الثاني (١٤) د۱۳۷۹هـ ش کال د وږي دمیاشتي (۲۲) د ۲۰۰۰میلادي کال د سپتمبر (۱۲)

با تداوم تعزیرات ملل متحد :

فعالیت شرکت دارو سازي هوخست افغانستان متوقف میګردد

شریعت : در جریان ۲۸ سال تولید این نخستین باریست که شرکت دارو سازي هوخست افغانستان به قلت مواد خام مواجه میګردد .

این مطلب را محترم داکتر بدرالدین «هاشمي» رئیس شرکت دارو سازي هوخست به خبرنګار ما اظهار داشته افزود : علي الرغم تعزیرات اقتصادي شوراي امنیت ملل متحد، هوخست افغانستان نتوانست مورد خام مواد ضرورت خویش را طبق تعامل از کمپنی هاي خارجي به کابل انتقال دهد؛ روي این منظور امروز فیصدي تولید هوخست به تناسب تقاضاي بازار به مراتب کاهش یافته است.

وي افزود : قبلاً شرکت دارو سازي هوخست ۱۲۰ قلم ادویه با کیفیت را مطابق نورم ستندرد بین المللي در کابل تولید مینمود: مګر حالا این رقم به ۱۸ قلم ادویه تقلیل یافته است.

ناصبرده اضافه داشت : امروز هوخست به ۳۲ قلم مواد خام مورد ضرورت شدیداً نیاز مند مي باشد که امکانات دست یابي آن در افغانستان میسر نیست.

از جانب دیګر رقم تولیدات این شرکت روز تا روز در کاهش قرار است که اګر این

ص ٤

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي ! ، همدا (عدل) ډېر نږدې دی تقوا (پرهیزګاری) ته .
(سورة المائدة)

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به‌بي حرمتي بګذارید.

د تخار ولایت مسلمانو اوسېدونکو:

له عالیقدر امیر المؤمنین سره خپل بیعت څرګند کړ

د اسلامی امارت هدف د شهیدانو په هیواد کی د شهیدانو د ارمان تر سره کول دی

مونږ د تخار ولایت اوسیدونکو ته بشپړ ډاډ ورکوو چی د دوی د سوکالی په لاره کی به له هیڅ راز قربانی نه ډډه ونکړو

محترم قاری احمد الله د استخباراتو لوی رئیس

د اسلامی امارت ځواکونو مونږ ته له ځانه سره امن ، سوکالی او د اسلامی نظام انفاذ راوړی دی

الحاج عبدالقدوس

تخار :

شریعت : د تخار ولایت مسلمانو او مندینو خلکو پرون د تالقانو د ښار په جامع جومات کی د ځانګړو اسلامی ولولو د څرګندولو په ترڅ کی له عالیقدر امیر المؤمنین سره خپل بیعت څرګند کړ.

له عالیقدر امیر المؤمنین سره د بیعت د غه شانداره مراسم د دی ولایت د مسلمانو خلکو له خوا د یوی پراخی غونډی په ترڅ کی تر سره شول. نوموړی غونډی ته د سیمی د قومی مشرانو عالمانو، او د تالقانو د ښار د اوسیدونکو په شمول یو شمیر امارتی لوړ رتبه چارواکي هم حاضر شوي و .

غونډه د عظیم الشان قرآن د څو مبارکو ایتونو په لوستلو سره پیل شوه وروسته

٤ مخ

د خوست په ولایت کي :

۲٥ نوی جامع جوماتونه جوړ شوی دی

خوست - باختر :

د خوست په ولایت کی پنځه ویشت جامع او صغیر جوماتونه نوی جوړ شوی دی.

د خوست ولایت د حج او اوقافو ریاست مسئول محترم مولوی نقیب الله مصلح په دی برخه کی وویل په هیواد کی د اسلامی امارت له ټینګښت را پدیخوا د خوست ولایت په مرکز او مربوطاتو کی پنځه ویشت جامع او صغیر جوماتونه د هغه ولایت د خلکو په مستقیمی همکاری سره نوی جوړ شویدی او د دینی فرایضو د ادا کولو لپاره ډېری اسانتیاوی برابری شویدی.

ص ٤

محترم قاضي القضات :

قضات محاکم باید در فیصله ها و اجراات شان اصول قضا را مد نظر بګیرند

شوراي عالي ستره محکمه تحت ریاست محترم مولوي نور محمد «ثاقب» قاضي القضات و رئیس ستره محکمه ا.ا.ا دیروز در مقر ستره محکمه دایر ګردید.

ابتدا آیات چند از کلام الله

ص ٤

درمربوطات شهر کابل :

یکتن سارق دستګیر ګردید

کابل باختر :

یکتن سارق دیروز در مربوطات شهر کابل بالفعل دستګیر ګردید.

موظفین حوزه نهم امنیتي که شب و روز در راه تداوم امنیت و مصئونیت جان و مال هموطنان ما صادقانه فعالیت مي نمایند دیروز یکتن سارق را در مربوطات ناحیه نهم

ص ٤

در پروګرام پرچاوي برق شهر کابل یکنیم ساعت تقلیل به عمل آمد

شریعت : از چندي بدینسو پروسه جریان برق در شهر کابل نسبت خشکسالي و پائین آمدن سطح آب در بند نغلو به سکتګي مواجه شده و روزانه

ص ٤

غرض نصب و منتاژ دستګاه دیجیتل:

عنقریب یك هیئت فني کشور چین وارد کابل میګردد

شریعت : قرار است در همین تازګی ها یك هیئت فني مخابراتي کشور چین غرض انجام کار هاي مقدماتي و نصب و منتاژ دستګاه دوازده

ص ٤

د ا.ا.ا د کرنی او مالداری وزارت د پلان ریاست مرستیال له «شریعت» سره په مرکه کی:

د افغانستان د وګړو زیاتره برخه د کرنی او مالداری په چارو بوخت دی

شریعت : قدرمنو لوستونکو! دا دي ستاسي پام د هغي مرکي د رپوټ لوستلو ته راګرځوو چي زمونږ خبریال د ا.ا.ا د کرنی او مالداري وزارت د پلان ریاست مرستیال محترم ملا محمد ادریس «صادق» سره د روان کال په بهیر

٤ مخ

گزارش کوتاه پیرامون ترانه ها و ترانه خوانان رادیو صداي شریعت :

از اراجیف و ابتذال تا اصالت و اسلامیت

ساتو بي په سرو وینو
دا د شهیدانو کور
دا د افغانانو کور
دا د باتورانو کور ...

این اولین ترانه به آواز ترانه خوان حنجره طلایي رادیو صداي شریعت

ص ۲

د کابل پوهنتون د هنرونو د پوهنځی ننداتون پرانستل شو

په دی ننداتون کی د میناتوری، ګرافیک او خطاطی هنری آثار و ۱٥۰ بیلګی وښودلی شوی

پرانستل شو.

د کابل پوهنتون د بیلا بیلو پوهنځیو د منی د سمستر د لوست د پیل کیدو په ویاړ د هنرونو د پوهنځی د محصلانو د هنری اثارو ننداتون پرون له غرمی مخکی په هغې غونډه کی چی له همدی امله په کابل پوهنتون کی جوړه شوی وه لومړی د لوړو

٤ مخ

د کابل پوهنتون د هنرونو د پوهنځی د میناتوری یوه ښایسته بیلګه . عکاس: یوسف

اده حمل و نقل ولایات کندهار- هرات از جاده میوند به منطقه سیلوي مرکزي کابل انتقال داده شد

شریعت : اخیراً نظر به لزوم دید مقام ریاست عمومي حمل و نقل امارت اسلامي افغانستان اده حمل و نقل ولایات کندهار- هرات که قبلاً در جاده میوند قرار داشت به منطقه سیلوي مرکزي کابل انتقال داده شد. هکذا اده حمل و نقل ولایات شمال کشور به شمول مزار شریف که قبلاً در خیرخانه مینه موقعیت داشت نیز به اده جدید انتقال داده شده است.

یك منبع مسؤول در زمینه به خبرنګار ما اظهار

ص ٤

په ژنیو کی :

د ماینونو د تحریم لاسلیک کوونکو هیوادونو غونډه وکړه

د ځمکنیو ماینونو د بندولو د تړون لاسلیک کوونکو هیوادونو پرون په ژنیو کی یوه غونډه جوړه کړه .

د خبری آژانسونو د خبر له مخی

٤ مخ

چیچنیایي مجاهدینو یو جګ پوړی روسی چارواکی وواژه

د چیچن جمهوریت مسلمانو مجاهدینو په د ګروسنیو ختیځ کی په دغه جمهوریت کی د روسیې یو لوړ رتبه مامور په ډزو سره له پښو وغورځاوه

د روسیې د کورنیو چارو وزارت خبر ځایونو اعلام وکړ چی وژل شوی شخص د ګروژنی د سیمه ییزی اداری رئیس و چی د روسي واکمنانو لخوا په دی کار ټاکل شوی و .

په د پاندی هغه وخت د مسلمانو مجاهدینو لخوا د اتوماتو وسلو ډزی وشوی چی خپل کور ته روان و .

له بلی خوا د چیچن مسلمانو مجاهدینو خبر ځایونو ویلی دی چی

٤ مخ

د کابل پوهنتون د هنرونو د پوهنځی د محصلینو په طلایي ګوتو د کښل شویو هنری آثارو بیلګي. عکاس یوسف

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د روسی مداخلت نوی بیلګی او د افغانانو مسؤلیتونه

د هیواد په شمالی برخو کی د اسلامی امارت د مجاهدینو په وروستیو پرمختګونو سره روسان او د هغوی اندیوالان ډېر زیات وارخطا شوی دی، له تاجکستانه نیولی تر مسکوه هره ورځ کله په یوه نامه او کله په بل نامه غونډی جوړوی او د افغانانو د شهید پال او مېړنی هیواد د ورانولو او جګړو د اوږدولو لپاره بندو بست نیسی، دغی ډلی د ملګرو ملتو په لویه سرمشریزه غونډه کی هم ډېری ناری سوری وکړی او له نړیوالو یی غوښتنه وکړه چی باید تاسو هم راسره ملګری شی .

رباني هم چی اوس یی ښه په اخلاص د روسانو چوپړ شروع کړی، ددغو جلسو په بهیر کی د هغوی تولی خبری تکی

ص ۲

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دبوي گټي بيه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغاني په پاکستان کی (۳) کلداری
پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان ټیلفون : ۲۱۳۸۱
جاري حساب : ٤۰۳۸۵/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : دولتی مطبعه

د سرمقالی پاتی برخه

په ټکی تأییدولی، بلکی یو دوه گامه په لا نور هم تری مخکی ؤ له بلی خوا په مسکو کی د ربانی یو استاځی چی غلام سخی غیرت یی بولی د روسانو د نظامی او اقتصادی مرستو د بر کلی او منته کړی او د لا نورو زیاتولو هیله یی څرگنده کړی، ده خو کومه خبره چی ددغی اندیوالی او روسی مداخلت ښه په نره او څرگنده گواهی ورکوی، هغه په مسکو کی د خپریدونکی «ایزویستیا» ورځپانی هغه رپوټ دی چی د بی بی سی د ورځی شپی په ماښامنی خپرونه کی یی یادونه وشوه او په هغه کی د یوه لوړ رتبه پوځی افسر له قوله ویل شوی چی د ۱ بر زر به د افغانستان په شمال کی نوی بدلونونه را څرگند شی» د نوموړی روسی له دی خبری په داگه معلومیږی، چی روسی مشرانو په افغانستان کی د جگړو د اوږد ولو او لاس پوڅو نوکرانو ته د پراخو نظامی مرستو ورکولو تیاری لانبولی ده د روسی دمداخلت دغه بیلگی له هیڅچا پټی نه دی او د شپه ورځ د نړی و الو خپرنیزو وسیلو له لاری خپریږی او هر سړی یی په خپلو غوږو اوري خو له بده مرغه نور خو څه کوی زمونږ یو شمیر مشران او لوړی شخصیتونه سره له دی چی د یر ښه پوهیږی او همیشه دا خبره هم تکراروی چی جگړه په افغانانو ورتپل شوی او پردی لاسونه را غځیدلی بیا هم د خپلو ځانگړو گټو په نظر کی نیولو سره په څرگنده نه وایی چی روسی لاس وهنه ببخی له چوکاټه وتلی او نور نو افغانانو ته په دی هکله چوپه ننداره نه ده پکار، بلکی د خپل دینی او ملی مسوولیت پیژندل او د هیواد د ژغورلو لپاره په څرگنده عملی جهاد ته اړتیا ده افغانانو د همدی روسی برغل او لاس وهنی د ایسارولو لپاره څوارلس کاله جهاد او مبارزه وکړه او د لکونو انسانانو قربانی یی ورکړه اوس چی د یو شمیر خائنو او نوکرو ډلو له خوا بیا روسانو ته بلنه ورکول کیږی، وا سی یی په مقابل کی چوپه خوله پاتی کیږی آیا زمونږ دغه ښاغلی نه دی خبر چی روسی جنرالان د چورلکو په واسطه د جگړی لومړی کرښی گوری او ان تر پنجشیر سره څه چی د کابل تر څنډو تگ راتگ کوی، آیا د تاجکستان د کولاب نه پر یمانه جنگی وسایلو د رالیږدولو په هکله یی تر یوال خپرونه نه دی اوریدلی او آیا د مزدورو ملیشو او روسانو بیلا بیلی غونډی او سلا مشوری له چا پټی دی.

نو په داسی حالاتو کی به کوم افغان بی تفاوته پاتی شی په داسی حال کی چی د پوهی، تجربی او لوړ شخصیت دعوی به هم کوی.

په هر صورت حقیقت دا دی چی، باید ټول هغه افغانان چی د خپل دین او د هیواد د خپلواکی او ځمکنی بشپړتیا اندیښنه و رسره وی، باید ښه په میړانه خپل دریغ روښانه او په دی هکله عملی مبارزه وکړی، د افغانستان اسلامی امارت چی د افغان ولس غوڅ اکثریت یی ملاتړ کوی له اولی ورځی په دی ژمن دی چی هیواد ته را ننوتی پردی لاسونه به غوڅوی او د روسانو د نوکرو ډلو ټپلو سره به تر هغو خپله مبارزه جاری ساتی تر څو چی په بشپړ ډول هیواد ته را پیښ خطرونه له منځه نه وی تللی نو مخلص او مجاهد افغانان باید په دغه دینی او ملی ارمان کی د اسلامی امارت په کلکه ننگه وکړی او یقیناً په دی هکله هیچا ته هم د سستی او غفلت هیڅ کومه پلمه او مجوز نه لیدل کیږی.

عدل او انصاف د اسلام په رڼا کی

دا یو څرگند حقیقت دی چی هره ټولنه د حاکموالی او محکوموالی، مشری، کشری، راعی او رعیتوالی څخه خالی نده همدارنگه دا یوه منلی او ثابته خبره ده چی په داسی ټولنه کی ژوند کول خامخا له ځانه سره شخړی خوا بدی او ټکر رامنځ ته کوی. او د یو بل څخه د مخ گرځولو سبب کیږی نو ځکه دا یوه طبیعی خبره ده چی پداسی ټولنه کی باید داسی څوک وی چی په انصاف او عدل باندی د ټولنی د وگړو تر منځ فیصلی وکړی او مناقشی یی د شریعت د احکامو په رڼا کی هواری کړی.

ددی مقصد د پلی کیدو په منظور غواړو خپلی اسلامی او شهید پروری ټولنی ته د عدل په باره کی یو څه عرض کړو، تر څو په عملی کولو یی مونږ او ټول دی ته د دنیا او آخرت سر لوړی او کامیابی را په برخه شی.

عدل

د لغت علماء د عدل معنی قضا بالحق کوی (د حق پر بنسټ پریکړی کول) او قسط یی په النصیب یعنی برخه او حق معنی کړی نو د دواړو مقصد دا دی: حق لرونکی ته د هغه د حق را اخستل او ورکول د عدل غوښتنه، برابروالی او مساوات دی. مطلب دا چی د عدل غوښتنه دا ده چی د یر زیات محبت او انتهایی سخته دښمنی د تلی پله هیڅ ډول پورته او ښکته نکړی بلکی په یوه حال وی.

او همدارنگه د (نظام الدولة والقضاء والعرف فی الاسلام) په ۲۸٤ صفحه کی د عدل معنی داسی کړی عدل ظلم نه کولو او په حکم کی انصاف ته وایی او په بل عبارت عدل په نسبت سره قاضی ته په حق باندی حکم او فیصلی ته وایی.

حضرت امام ابو یوسف «رح» د عدل تعریف په (فتاوی هندیه) کی داسی کوی: په شهادت کی عدل دا دی چی انسان د لویو گناهونو څخه ځان وژغوری. او په وړو او کوچنیو گناهونو همیشه والی ونکړی. خیر او فایده یی د شر او فساد څخه زیات او صحیح والی به یی د خطا څخه زیات وی.

نو باید ووایو چی دلته مونږ پر هر هغه عدل ږغیږو کوم چی د امارتی مسؤلینو لپاره ضروری وی ځکه مو دا تعریف ددی لپاره راوړ چی که یو انسان دغه پورته ذکر شوی صفتونه له ځانه سره ونلری بیا خوبی شهادت مردود دی کله چی د یو چا شهادت ونه منل شی نو څرگنده به په یوه اسلامی جامعه کی د مسؤل په صفت کار وکړی.

هغه ضروری مسئلی چی خلک ځنی غافل دی:

ډیر خلک دا فکر کوی چی که د شرعی محکمی د لاری دبل مسلمان وروړ مال په محکمه کی د ناحقه قسم او یا ناحقه شاهدانو د شاهدی په ذریعه وگټی، گواکی ده ته حلال شو مگر داسی نه ده د قاضی حکم که څه هم ظاهراً نافذ دی خو په واقع کی دیانتاً دا مال ده ته حرام دی.

ډیر خلک دا فکر کوی چی بیت المال هغه وخت حرام دی چی کله یی دی کورته یو

د عدلیي وزارت له خپرونو څخه

شی یوسی مگر خبره یوازی داسی نده بلکی پخپل مرکز، ولگی کی وزارت، ریاست او داسی نورو ځایونو کی چی هر ځای یی له ضرورت څخه د بیت المال جنس استعمال شی خیانت او ورته حرام دی آن که آشپز وی که وزیر؟

یا دا چی عدل په لغت کی برابروالی او مساوات ته وایی او په اصطلاح کی د افراط او تفریط منځنی برخی (مرتبی) ته عدل وایی چی د عفت، زوور توب او حکمت څخه مرکب دی.

او یا داچی عدل داسی یوه قوه ده چی خپل خاوند (انسان) په لازموالی د پرهیزگاری او مروت مجبوروی. د عدل کلمه په قرآنکریم که ۱۷ ځایه راغلی ده او د ظلم بدی یی په ۲۸۷ ځایونو کی بیان کړی ده. نو ځکه د سیاسی شریعت مانی په دوو ستنو ولاړه ده:

اول: مسولیتونه او منصبونه اهل خلکو ته سپارل

دوهم: د عدل او انصاف په اساس د خلکو تر منځ پریکړی کول.

حضرت ابو هریره «رض» د سراج الملوک په اول جلد ۱۸٤ صفحه کی په یوه مرفوع حدیث شریف کی فرمایی: خامخا د یوه عادل امام (حکومتی مسؤل) یوه ورځ عدل کول پر خپل رعیت بهتر دی له عبادت د هغه عابد نه چی سل کاله یی په خپل کور کی عبادت کړی وی او یا پنځوس کاله.

د پورته حدیث شریف څخه دا څرگندیږی چی آنحضرت «ص» د عدل او انصاف ثواب بهتر گڼلی په نسبت د عبادت د هغه عابد چی سل او یا پنځوس کاله یی پخپل کور کی عبادت کړی وی نو خدای «ج» دی مونږ ټولو مسلمانانو ته ددی توفیق راکړی چی پخپله راسپارل شوی دنده کی عدل او انصاف وکړو.

د دا شانی ثواب د لاس ته راوړلو په خاطر امام مسروق «رح» یو جلیل القدر تابعی د سراج الملوک په اول جلد ۱۸٤ مه صفحه کی فرمایی یوه ورځ چی په حقه فیصله وکړم. غوره دی ماله تر یوه کال جهاد او غزا په لاره د خدای «ج» کی. په عقد الفرید کی یو بل حدیث شریف داسی راوړی: د یوه ساعت عدل حکومت کول د شپیته کاله عبادت څخه بهتر دی.

د ترغیب او ترهیب په دریم جلد ۱۳۵ مه صفحه کی حضرت ابو هریره «رض» فرمایی چی حضرت رسول الله «ص» فرمایلی دی: د پاچا (حکومتی مسؤل) یو ساعت عدل د شپیته کاله هغه عبادت څخه بهتر دی چی د شپی قیام (نفل کوی) او د ورځی روژه نیسی او یو ساعت ظلم یی ډیر سخت او ډیر لوی دی د شپیته کاله گناه څخه غزتمنو ورونو که سوچ او فکر وکړو په آسانی سره پوهیږو چی څوک د دومره ډیر عبادت کولو طاقت لری هغه هم معلوم ندی چی قبول به وی که څرنگه؟ حال دا چی په عدل چال چلند او عمل کول خو د پورته حدیث شریف څخه ثابتیږی چی قبول دی.

گزارش کوتاه پیرامون ترانه و ترانه خوانان رادیو ...

ملا فقیر محمد درویش بود که شام پنجشنبه ششم میزان سال ۱۳۷۵ هـ ش از طریق امواج رادیو پخش گردید و نواي اصلي افغاني، اسلامي و مردمي بر پيكر ابتذال و اراجيف (بيهوده ها) مستولي گشت.

بلي خواننده گرامي! پيكر فرهنگي جامعه ما كه طي رژيم هاي سابقه حقيقتاً از هم متلاشي شده بود و هويت ملي و اسلامي خويش را از دست داده بود با حاكميت تحريك اسلامي طالبان در افغانستان، بخود رنگ ديگر گرفت و نظام جديد كه بر بنياد شيوه هاي واقعاً اسلامي و افغاني استوار ميباشد يكباره خط بطلان بر همه پديده هاي مبتذل گويا «فرهنگي!» رژيم هاي سلف كشيده و اراجيف جايش را به اصالت و اسلاميت واگذار شد.

امروز آنعده از شعراء فرهيخته، كشور كه نسبت به مردم و وطن خويش احساس نيك و انساني دارند پيرامون وطن و وطندوستي ظريفانه و رسالتمندانه شعر ميسرايند و ترانه خوانان ما اين اشعار را در قالب ترانه هاي نغز چنان بلبلانه سر ميدهند كه رگ رگ وجود هر افغان مسلمان را به وجد و تحريك در مي آورد.

ساتو بي په سر وينو
دا د شهيدانو كور

چنانكه گفتيم اين نخستين ترانه بود كه با نشر آن گوش هر مستمع تكان خورد و ريكارد اولين راديوي بدون موزيك را در سطح ۱۸۲ كشور جهان قايم ساخت.

به همين ترتيب فضل الرحمن تبريز در نخستين روز هاي فتح و پيروزي تحريك اسلامي طالبان در كشور اولين پارچه ترانه دري را با اين ابيات در ستديوي ۳٤۸ راديو صداي شريعت ثبت نمود:

وقتيست كه دردت برسد باز بدرمان
اي ملت افغان ...

* * *

از مدارس سوي سنگر شاد و خندان آمديم
طبق دستور خدا و حكم قرآن آمديم ...

اينها سر آغاز ترانه هاي مي باشند كه يكي بعد ديگر در دل مردم و قلب طالبان شور آفريدند و زبان به زبان زمزمه ميشدند، تا جائيكه امروز اين ترانه ها ورد زبان اكثريت هموطنان ما بوده و سينه به سينه انتقال ميگردد.

جاي بس شكران و افتخار است كه نسل جديد موازي با شيوه هاي پسنديده فرهنگ اسلامي عيار بوده و مشتاقانه به پيش ميروند؛ اينكه چگونه اين ترانه ها در روح و روان مردم ما جا گرفت محترم الحاج در محمد «گوهري» رئيس هنر و ادبيات راديو در زمينه گفت: اولاً اينكه شنيدن موزيك با موسيقي براي مسلمانان هيچگونه جواز شرعي ندارد و ثانياً اينكه زندگي افغانها طي بيست سال اخير آميخته با جنگ، غم، رنج و مصيبت بوده و نميشود كه صداي اين همه رنج و غم را كه هر يك جهت تامين شريعت غراي محمدي «ص» در كشور بوجود آمده بود با موسيقي مبتذل كه مخالف شريعت ميباشد بيان كرد: از جانب ديگر كيفيت و تاثير اشعار تراژيدي و غم انگيز هيچگاه با موزيك و موسيقي اراجيف سازگار نمي افتد، بناً به همين وجه گفته ميتوانيم كه اين ترانه ها به يكبارگي و همدلي در قلب مردم جا گرفت؛ هكذا بايد گفت كه در رابطه به ثبت و نشر ترانه هاي اسلامي آمريت هنر و ادبيات راديو مسؤليت همه جانبه داشته؛ ضمناً كميسيون به همين ارتباط موظف است تا عند الموقع از چگونگي ثبت و نشر اين ترانه ها نظارت به عمل آورد.

به همين ترتيب مسؤل بخش آرشيف راديو در زمينه ثبت و نشر اين ترانه ها چنين اظهار داشت: روزانه حدود ٥-۱۰ پارچه ترانه جديد در ستديو هاي راديو صداي شريعت ثبت ميگردد، هم اكنون ۱۱۰ ترانه خوان رسمي در مجموع آرشيف راديو ثبت و راجستر بوده و مجموع ترانه هاي ثبت شده در آرشيف راديو طي ٤ سال اخير ۲٦۰۰ پارچه مي باشد؛ علي الرغم اين امار نشرات خارجي رابو صداي شريعت نيز دور از نشر اين ترانه ها نمانده همين حالا در مجموع نشرات خارجي راديو ۱٦۰ ترانه بزبان هاي انگليسي، روسي، اردو، عربي و ازبكي ثبت ميباشد كه در جريان نشر برنامه هاي خارجي صداي اين ترانه ها متداوماً بلند ميگردد.

از سوي ديگر حدود ۳۰۰ ترانه خوان غير رسمي افغان وسيعاً در شهر هاي پشاورو كويته پاكستان مصروف تهيه و ثبت ترانه هاي اسلامي و ميهني مي باشند كه در جريان ٤ سال اخير اين ترانه خوانان بيشتر از ٤۰۰۰ كست كننده را ثبت و به شكل تجارتي غرض عرضه در بازار هاي عمده و پرچون كست فروشي در داخل افغانستان ارسال داشته اند.

قسميكه اشاره گرديد اداره هنر و ادبيات راديو صداي شريعت وقتاً فوقتاً مسؤليت چك و ارزيابي اين كست ها را در داخل كشور به عهده دارد و سعي مي نمايد كه كست هاي توريد شده را در بازار ارزيابي نمايد از طرف ديگر مصمم است تا بعد از اين پروگرام كنترول و ارزيابي كست ها را در بازار بيشتر از پيش تحكيم بخشد.

امروز اين ترانه ها نه تنها از طريق برنامه هاي راديو صداي شريعت ثبت و نشر ميگردد بلكه از طريق راديو هاي محلي ولايات نيز عملاً ثبت و پخش ميگردد كه بطور مثال ميتوان از راديوي محلي هرات، كندهار، مزار و پكتيا نام برد.

شعر موزون و با محتوي عالي، كمپوز متناسب، آواز گيرا و تفهيم نمودن ابيات از زمره معيارات ويژه ثبت يك ترانه در راديو صداي شريعت تلقي ميگردد.

موصوف اين را هم اضافه داشت كه تعامل ما در قسمت انتخاب اشعار ترانه هاي اسلامي و ميهني منحصر به شاعران دوره جهاد مقدس ميباشد.

نامبرده آنعده ترانه خوانان سرشناسيكه بيشتر در بين مردم محبوبيت كسب كرده اند اينگونه ياد آور شد: محترم ملا فقير محمد درويش، قاري فضل الدين سراجي، احسان الله شفيق، محمد جواس سودايي، عزيز غزنوي، فضل الرحمن تبريز، صديقشاه صديق، صفدر توكلي، ضياء الحق درويش، ملنگ باغبان، كريم مهربار، نو بهار همت، ظاهر قيامي، سردار ولي سيرت، شمس الله همدل، قاري محمد نعيم، نور آغا، باز محمد سروري، عثماني، اسمعيل حقيار، غلام حيدر راجي شايسته خان و ...

البته شايان ذكر است كه اكثريت اين ترانه خوانان امروز به شكل افتخاري در ستديو هاي راديو ترانه ثبت ميكنند، همين قسم شاعران ما نيز اشعار قيمتي شان را بدون در نظر داشت امتيازات مادي، صادقانه در اختيار اين ترانه خوانان قرار ميدهند كه اين امر موجب افتخار و غنا مندي فرهنگ اسلامي در كشور ميباشد.

مسؤلين و دست اندركاران راديو صداي شريعت هر آن ميكوشند تا جهت غنامندي فرهنگ ملي و اسلامي در كشور همكاري كليه هنردوستان و پژوهشگران فرهنگي را در داخل و خارج كشور جلب نمايند چرا كه هويت فرهنگي يك جامعه به مثابه دهليز معرفت يك كشور پنداشته شده است.

محترم ملا محمد اسحق «نظامي» رئيس عمومي راديو تلويزيون و

ص ٤

رنځوره می لیلا ده

ببرک احمد زی

رنځوره می لیلاد ، طبیبان را تولوم
بی درد بی کړی خوښونه دردمندان راټولوم
زما د ازادی لیلا رنځوره ده کړیږی
داوینی به تري ځار کړم که په وینو می رغیږی
هر چیرته عاشقان له معشوقو ځینی ځاربیږی
مجنون غوندی په عشق کی صادقان راټولوم
خانان د پګړی ګانی خپلی جګی ږدی په سر
چی وی بی په هر ځای کی فیشنونه برابر
د کام پرده دی خدای وکړی په روی د پیغمبر
هیواد او دی ملت ته عاشقان را ټولوم
ورځمه و پنجشیر ته په کی ګورمه زخمیان
بیا ګورم شمالی کی په بمونو کلی وران
نو چیرته به پیدا کړم مجاهد فخر افغان
کابل او شمالی کی یتیمان را ټولوم
لیږمه پیغامونه خوستی ښکلو زلموته
ناری سوری وهمه د ځدرانو ننګیالو ته
د اوښکو ډکی سترګی وړم منګلو احمد زو ته
خدمت ته بیا خدایی خدمت ګاران راټولوم
جامی په وینو رنګ به ګرځوم په سرحدونو
د هغو شهیدانو چی مړه شوی په بمونو
ژړا زلموته ښیمه په زیراو په آهونو
نو زه ببرک جان ګرځم سربازان راټولوم

د شعر او ادب نړی

چي کـشـور د افـغـانانو مـعطر کـا
د هر بیت مصرع مي زلفي د خوبان کړي

رنګ

شهید سحر

څو مـــــو روح وی د یوه اتل په تن کی
ځاځکی وینه وی دیوه یا تور بدن کی
څو چی دلتــه اوسی مـــیندی او پلرونه
چیــــری اوسی چی زامن په دی وطن کی
څو چی دلتـه وی جـــونګړی د سـر لوړو
څو وی ژوند د شـمله ورو دی مــسکن کی
پت ددی خــاوری او خلکو به خــوندی وی
هیڅ یو داغ به یی پیـــدا نشی لمن کی
دا ښکلا به وی جــهـــان به رنګ تری اخلی
لکه اخلی چی تری رنګ «ســحـــر»! نن کی

حذر

وحید مژده

کـشـاي دیده کـه دشـمن مـحـیل و مکار است
سـتـمگر است و بخـون تشنه است و غـدار است
خط نگاه مگیــر از نشــانه گــاه تفنگ
کنون کـه لمـحـه حـاصل ز جـهـد و پیکار است
زمــانه گــر چه برانداخت نسل شــاهانرا
بـه کـلـه هـا هـوس تـاج و فـکـر دربـار است
امـــیـــد سلطه برین قـــوم او بگور برد
کـه از تبـار خـیــانت سـرشت و سـردار است
قـــدم به راه خـــیـــانت به رزم این مـــردم
مـــدافع حق ملت به قـــول اظهـــر است
خـدا ز بیـعت پیـري کـه در مـقـام عـمل
ز بهـر کـهنه بت از کـعـبـه دست بردار است
سـواد شب زره خـواب قـصد شـبـخـون داشت
ولي دو چشم مـــجـاهد هنوز بیــدار است
کـــیکه مـوجـه جـوش ره تجـاوز بست
کـــیکه عـــزم وي این رزم را علمــدار است
ســپـــاه نور شکـــستند قلب ظلمت را
طلوع مــــهـــر بر بام افق پدیدار است

د خیال شپونکي

محمود الله مهجور

د خیال شپونکی می تورو غرو ته لاړو
د تصور په دښته
د عشق په څروی
د خیال شپونکی می هسکو غرو ته لاړو
د هسکو غرو له لمنی
دی اسمانځکو غرو ته
خدای خبر څنګه خیری
په دی اغزنو لارو
څنګه منزل لنډوی
د غره پر هسکه څوکه
د غم شپیلی غږوی
په وارخطا قدمو
یو بل خوا منډی وهی
د غره په پوری اړخ کی
چی دا یو تور ځنګل دی
او دا د عشق له وریو
په دغه تور ځنګل کی
یو سپین ورکی ورک شوی

داصحابو د ژوند پلوشی

مؤلف : دکتور عبدالرحمن رأفت باشا - مترجم : بشاو

۲۰

عبد الله بن جحش الاسدی

هغه صحابی چی اوس ور څخه یادونه کوو د رسول الله «ص» سره قوی اړیکه لری. او د اسلام له لومړنیو کسانو څخه دی.

هغه د رسول الله «ص» د عمه زوی دی، مور یی امیمة بنت عبدالمطلب نومیدله چی د حضرت پیغمبر «ص» عمه وه . هغه د حضرت پیغمبر «ص» اوښی دی ځکه خور یی زینب بنت جحش د دغه الهی پیغمبر ښځه، او د مسلمانانو له میندو څخه ده .

هغه لومړنی شخص دی چی په اسلام کی ورته بیرغ ترل شوی دی او بیا هغه لومړنی شخص دی چی په امیر المؤمنین سره یاد شوی دی.

عبدالله بن جحش مخکی له دی څخه چی حضرت پیغمبر «ص» د اړالارقم ته ورننوځی اسلام یی منلی و او د اسلام له لومړنیو منونکو څخه ګڼل کیږی.

کله چی حضرت پیغمبر «ص» خپلو ملګرو ته د قریشو د تکلیف او ضرر څخه د بچیدلو په غرض مدینی ته د هجرت اجازه ورکړه ، عبدالله ابن جحش دویم مهاجر و چی په دغه وخت کی یی له ابو سلمه څخه بل چاته د هجرت فضیلت ور په برخه شوی نه و .

د عبدالله بن جحش لپاره د خدای په لاره کی د کورنی او هیواد پریښودل یو نوی کار نه و ځکه هغه او ځنو خپلوانو یی پخوا هم د حبشی هجرت کړی و مګر په دغه ځل د هغه هجرت له پخوانی هجرت څخه هر اړخیزه عام او پراخه نه و په پخوانی هجرت کی د هغه سره کورنی، خپلوان، د هغه د پلار زامن او لوڼی، سپین ږیری او زلمیان، ښځی او سړی او ماشومان هم ملګری و .

هغه له مکی څخه لا نه و وتلی چی ورته خپل کورونه په غم او خپګان سره ړلی ښکاره شول، او کورونه یی داسی تش او خالی شول چی ګوندی هیڅوک په کی اوسیدلی نه دی، او نه په کی چا شپه په کیسه سبا کړی ده .

د عبدالله او د هغه د ملګرو له هجرت څخه څه وخت لا نه و تیر شوی چی د قریشو مشران د مکی د شا او خوا باندو کی په لټه کی شول څو دا پته ولګوی چی د مسلمانانو څخه څوک پاتی دی، او چا هجرت کړی دی.

د قریشو د مشرانو په ډله کی ابو جهل او عتبة بن ربیعة هم ګډون درلود . عتبه چی د عبدالله کورونو ته وکتل چی باد ونه په کی دوړی پورته کوی او د هغه د دروازو د خوځیدلو کرنګ او کړونګ اوری نو و یی ویل :

د جحش د زامنو کورونه تش شول، او په خپلو خاوندانو ژړا کوی. ابو جهل وویل : هغه څوک دی چی کورونه یی وربانْدی ژړاکوی ؟!

بیا ابو جهل د عبدالله په کور چی ښکلی او له سامان څخه ډک و لاس کیښود ، او د هغه سامان یی د خپل مال په شان یوه خوا او بله خوا کړ.

کله چی عبدالله ته د ابو جهل د لاس وهلو خبر ورسید نو حضرت پیغمبر «ص» ته یی د موضوع یادونه وکړه نو الهی پیغمبر ورته داسی وویل : ای عبدالله په دی خوښ نه یی چی خدای د کور پر ځای په جنت کی کور درکړی؟

هغه وویل : بلی، په دی خوښ یم.

حضرت پیغمبر «ص» ورته وویل : هغه ستا لپاره شو.

عبدالله د حضرت پیغمبر «ص» په خبره خوښ او راضی شو .

پاتي لري

فیض مکتب قرآن

حنیف بلخي

بیـا در مکتب قـرآن کـه اسـرار جـهـان بیني
رمـوز عـالم و آدم بچـشم دل عـیـان بیني
دگـر از باده عـرفـان نصـیـبت جرعـه بي گـردد
ز استـغنا به این دنیـا و مـافـیـهـاي آن بیني
زهي مکتب کـه انسـان ساز باشـد حرف حـرف آن
جـهـاني مـعـرفت را در سطورش هـمزمـان بیني
مـعظم کـز حـشـو و اطناب است پاکـیـزه
بسـوي مـعـرفت هر واژه اش را ترجـمـان بیني
همـه مـغـز است و مـسـتـغني ز ارژنگ برون دایم
جـهـان هر گـزندیده مکتبي باین جـهـان بیني
حـیـات پیـشـوایش آیه هاي مـعـرفت یکسـر
چنان مـجـري کـه آن را بیکنارو بیکران بیني
کلیـد رمـز هـستي در کف خـواننده اش باشـد
هزاران جـام جم را در عـمل در جـامـه آن بیني
به کنه پایه انســان رسي چون مــرغ رایابي
کـمـال آدمـیـت را از آن پس درروان بیني
رمـوز عـالم غـیب و شـهـادت تحـقـقي در قلب
اگـر قلب مـعـقـا داشـتي جـمله درآن بیني
فـیـوضش دایمـا مـانند ابحـار است درفـیـضـان
گـشـا چشـمـان دل تاگنجـهـاي شـایگان بیني
ندارد هیچ مکتب در جـهـان این فـیض آني را
زهي خطي کـه در هر خطوه اي تو فـیض آن بیني
قلم را نیـست یاراي کـه در شـانش سـخن گـوید
زبان را عـاجـز از تعـریف و وصـفش در دهان بیني
د لاتسلیم مـجـد این مـعظم مکتب قـرآن
بشـو چون خـویش را چون ذره پـیش ناتوان بیني

OMAR International

ماین خبرتیا او ژغورنه

د پټ دښمن څرګند ګواښونه ۳

الف : د فشار په واسطه .
ب : د فشار د کمیدو په واسطه
ج : د سست سیستم یا تار په کشیدو
د : د شخ تار په پری کیدو
هـ : د بریښنائیز شارټ په واسطه

دا هم ښایی یاد کړو چی ماینونه په اور او همدارنګه په ډیرو د ویشتلو او ټکولو سره هم چاودیدای شی له دی پرته نور نا چاودو مهمات هغه خطرناک او مرګونی څیزونه او مواد دی چی د چاودنی په صورت کی مرګ ژوبله او زیان را منځ ته کوی.

د توپ، هاوان، توغندیو مــردکی او نوری بیلا بیلی ګولی، لاسی بمونه، لوی بمونه له ناچاودو مهماتو څخه ګڼل کیږی.

ځینی یی د غو لوونکو دامونو بڼه لری چی په څرګنده خو بی خطره ښکاری ولی په حقیقت کی ډیر خطرناک دی، دغه دامونه یا خو د ماین په بڼه جوړ شوی یا په نورو بڼو او یا هم پر کوم بل چاودونکی څیز پوری ترلی وی.

له دغو ماینونو څخه ځینی بارودی او ځینی بی چره یی چاودنه کوی چی په دواړو صورتونو کی د ژوو او ګاډو د مرګ ژوبلی او له منځه وړو یا زیانمنیدو سبب ګرځی .

اسلامی امارت د ۱۹۹۸ په اکتوبر د اتومــادو په یوه ځانګړی اعــلامــیــه کی د ماینونو پر کارونی، سوداګری، زیرمه کولو د بندیز له نړیوال ترون سره په خپل پیوستون یو رغنده ګام پورته کړ او په هیواد کی یی د ماین پاکی د پروسی ننګواو ستاینه وکړه .

د او مـر نړیوالی مـوسسی مـشـر او د مـاینونو پر ضـد د افـغـانانو مـبـارزه ACBL د مدیره هیئت مـرسـتـیـال الحاج فضل کریم فضل عبدالرحیم زی د روان کال د جون میاشتی په دویمه لسیزه کی د خـبـریالانو د پوښتنو په ځواب کی هیله څرګنده کړه چی نور اړخونه هم په دی لار کی مثبت ګام پورته کړی د ماینونو د کارونی مخه ونیسی، د ماین پاکی موسسو ته مخه ورکړی او پر ماینونو د ککړو سیمو او ساحو له دقیقی نقشی او څرنګوالی یی خبر کړی چی دغه موسسی خپلی هڅی او فعالیتونه تولو سیمو ته وغزولی شی او د ګران هیواد پسـتـه غـیـره د مرګ او ژوبلی له لومـو او دامونو پاکه کړی.

مـخکی له دی چی د ماین خبـرتیـا او ژغـورنی په اړه د خپلو خپـرونو لړی پـی وغـزوو اړینه ګڼو چی لومړی د ماینونو او ناچاوده مهـماتو د شتـوالی پرنښـو نښـانو خبری وکړو چی د هغو په پیژندلو ځانونه او نورو ګړی د مـاینونو او ناچاوده مـهـماتو له ګواښ نه وژغورو .

د ماین پاکی مـوسسـو له خوا ځای پر ځای شوی نښی : هغـه ډبری چی سور رنګ ورکړل شوی وی په ماینونو او ناچاوده مهماتو ککړه ساحه په ګوتو کوی. همدارنګه څلور ګوټیز سری سمنتی پایی هغه نښی دی چی د ماین پاکی موسسی یی په ماینونو ککړو سـیـمـو کی ځای پر ځای کوی چی وګړی هلته د تلو څخه ډډه وکړی او لازم احتیاط په پام کی ونیسی. سیمه ایزی نښی ، غونډ او ګیډی شوی وابښه ، را تولی شوی ډبری ښخ شوی د لرګو غشی، دا هغه نښی دی چی د سیمی وګړو له خوا د ماینو او ناچاوده مـهمـاتو د ګواښ ساحـه په نښـه کوی. د احتمالی خطرناکو سیمو نښی : یو ځی ډګرونه، وران شوی کورونه، پوځی اډی، پوستی او د هغو شاوخوا سیمی، وسپنیز کباړی سامان الات او هغو ځایونو کی چی د انسـان او حیـوان هډوکی لیدل کیـږی ټول د هغو سیمو ښوونه کوی چی هلته د ماینونو او ناچاوده مـهـمـاتو د ګـواښ او ککړتیـا احتـمـال شتـه، چی ښـایی د مـاین پکی له موسـسـو سره اړیکی ونیول شی او د هغوی مرستی تر لاسه کړای شی. په هغو سیـمـو کی چی د ماین پاکی موسسو پر ډیرو سپین رنګونه اچولی دا معنا لری چی دغه سیمه د ماینونو له ګواښ څخه پاکه او خوندی شوی ده . د ماینونو او ناچاوده مهماتو ټکول، اړه کول په اور کی اچول، پیرل پلورل او لیږدول د مرګ ژوبلی باعث ګرځی .

په دغـــی سیـمـو کی د تلو راتلو پر مهال له باخبره وګړو څخه د ماینونو او نا چاوده مهـمـاتو د ګواښونو او شتون په اړه مـعلومـات تر لاسه کړی او پر ډاډمنو لارو سفر وکړی.

نوربیا

گزارش کوتاه پیرامون ترانه و ...

افغان قلم در زمینه نظر خویش را اینگونه بیان داشت : امروز همانگونه که هر دیوار جنگ زده کشور ما به آبادي و باز سازي ضرورت دارد فرهنگ جامعه ما نیز باید رجوع به اصل خویش نماید و اسلامیت و افغانیت خود را باز یابد: بناً تا اینکه ما کمك و همکاري کلیه استعداد هاي فرهنگي سالم هموطنان خویش را در داخل و خارج از کشور با خود نداشته باشیم تا ممکن است که فرهنگ ملي و اسلامي وطن خویش را دو باره احیا کنیم: لهذا آنعده از هنرمندان قبلي رادیو تلویزیون (طبقه ذکور) که تا هنوز هویت فردي و ملي خویش را در دل مردم حفظ داشته اند و دفتر سوانح ایشان منزه از خیانت و فساد ملي و دولتي میباشد و فعلاً در دیار هجرت بسر میبرند با کمال جرئت میتوانند در پروسه غنامندي مکتب جدید هنري یعني خوانش ترانه هاي اسلامي و میهني صادقانه سهیم شده و با ثبت و ارسال ترانه هاي قشنگ و خوش آواز شان آرشیف ترانه هاي اسلامي و میهني رادیو صداي شریعت را بیشتر از پیش پیرایه ببخشند، چنانچه ما همین حالا مثال زنده و برجسته این هنرمندان را در آرشیف رادیو خویش داریم که با افتخار میتوان از هریك ایشان چون : محترم عزیز غزنوي، شمس الدین مسرور، کریم مهربار، صفدر توکلي، ملنگ باغبان، فضل رحمن نیریز و ... نام برد.

رادیو صداي شریعت غرض تشویق و خوشنودي خاطر ترانه خوانان در کشور سالانه یکي از ترانه خوانان خوش آواز را از میان همه برگزیده و وي را به عنوان ترانه خوان سال انتخاب مینماید؛ هکذا از میان ترانه هاي ناب و برگزیده این ترانه خوان ویژه ترانه را به عنوان ترانه، سال پیشکش میدارد که در دو سال اول پیروزي تحریك اسلامي طالبان در کشور محترم درویش به عنوان بلبل ترانه خوانان مفتخر گردیده بود، همچنان سال گذشته محترم قاري فضل الدین سراجي به عنوان ترانه خوان سال ۱٤۲۰ هـ ق و ترانه «و طالبه گرانه پسام کوه کابل باندي» ترانه سال انتخاب گردید و محترم محمد جواس سودایي اخیراً از میان ۱۱۰ ترانه خوان به عنوان ترانه خوان سال انتخاب گردید.

مهربان

د ا.ا.ا د کرنی او مالداری ...

کي د ټول هیواد په کچه د کرني او مالداري د کمیت او کیفیت د ځرنګوالي په هکله کړي هبله ده چې د پاملرنی ور مو وګرځی .

په پیل کی د ا.ا.ا د کرنی او مالداری وزارت د پلان ریاست مرستیال محترم ملا محمد ادریس «صادق» داسی وویل : افغانستان یو زراعتی هیواد او د وګړو زیاتره برخه یې له ۸۰-۸۵ پوری د کرکیلی په چارو بوخت دی د یادونې وړ ده چې د هیواد د ملی عوایدو تقریباً نیمه برخه له همدی لاری لاس ته راځی د تیرو کلونو د احصائیو له مخی افغانستان ۳،۱ ملیونه غوایان او غواګانی، ۱٤،۸ ملیونه پسونه او میږی، ۲،٤ ملیونه وزی ۱،٦ ملیونه اوښان، آسان، کچری...، ۵،۳ ملیونه چرګان او بیلابیل مرغان درلودل. سږ کال دواوری او باران د نه اوریدو له امله سخته وچکالی را منځته شوی او د هیواد بزګرانو او مالدارانو ته یې درانه زیانونه پیښ کړی دی. څه موده پخوا مونږ د کندهار ارزګان، زابل او نیمروز په ولایتونو کی مالدارانو ته د رسیدلو زیانونو جاج واخیست. شمېرنو او څیړنو دا څرګنده کړه چې زیان یا تلفات له ۵۰-۸۰٪ پوری دی.

ده زیاته کړه : د زیاترو ولایتونو په مرکزونو او یو شمیر ولسوالیو کی د وترنری اصلی او فرعی کلینیکونه فعال شوی دد غو کلینیکونو له ۲۹۰ څخه زیات د تریوالو خیریه موسسو له خوا فعالیت لری په نومورو کلینیکونو کی د روان کال په بهیر کی ۸٦۷۸۲۹ راسه او قطعی څاروی او چرګان تداوی شوی او ٦۰۳۵۸۵ نورد بیلا بیلو ناروغیو په وړاندی واکسین شوی. د واکسین جوړولو چاری د نړیوال سره صلیب له خوا تمویلیږی او تر اوسه یې ٦۰۰ زره دوزه انترکس او ٤۰ زره دوزه پاستر لوز واکسینونه جوړ کړی. د ننګرهار په ولایت کی هم د واکسین جوړولو کار دری کاله مخکی د مدیرا موسسی لخوا پیل شوی .

دی زیاتوی : په کابل کی د دارالامان د وترنری انیستیتوت او په ننګرهار، بلخ، کندهار، هرات او نورو ولایاتو کی د نوموړی انستیتوت د څانګو له خوا ۲۰۲۸۵ لابراتواری کتنی شوی. همدارنګه ۵۱۱٤۸۸ څاروی د حیوانی طب د متخصصینو له لوری تر معاینی وروسته قصابانو او مسلخونو ته لیږل شوی. د یادونی وړ ده هغه ۱۰ څاروی چې د معاینی په ترځ کی په ساری ناروغیو اخته ثابت شول او غوښه یی د استفادی وړ نه وه په عام محضر کی تر خاورو لاندی شول.

ده وویل : مونږ یو مقدار با کیفیته درمل پخوا د اسلامی امارت له بودجی نه تر لاسه کړی او د رسمی حوالو په وسیله مو د هیواد مرکز او زیاترو ولایتونو ته ولیږدول او هغه مو د یوه ټاکلی نرخ په بدل کی مالدارانو ته وړاندی کړی او تر لاسه شوی پیسی مو په دورانی توګه په کار اچولی دی.

نوموړی زیاته کړه همدا اوس د هیواد په مرکز او ولایتونو کی د مالداری ۱۰ فارمونه فعال دی. د کابل د بنی حصار د مالداری فارم، د دارالامان دوربیښمو د چنجیو پروژه او د مچیو ساتنه ، د بادام باغ د چرګانو پروژه د نوی ښار د وربیښمو د چنجیو پروژه، دریشخورو د مالداری فارم، د جنګلک د چرګانو فارم او په ولایاتو کی د ننګرهار د هډی مالداری فارم، د جوزجان او بلخ ولایتونو د قرقل پسونو فارمونه د هلمند او پکتیا د مالداری فارمونه او داسی نور د یادونی وړ دی. دغه راز په مرکز او ولایاتو کی د نسل د تولید او اصلاح اووه مرکزونه فعالیت لری.

دی زیاتوی : کــه څه هم چی له وچکالی ځپلو مالدارانو سره د کورنیو او بهرنیو موسسو له خوا مرستی شوی. خو په هیڅ صورت کافی نه دی او رسیدلی زیانونه، نه شی جبران کولای. البته د ا.ا.ا د کرنی او مالداری وزارت په پام کی لری چی نوموړی موسسی لا زیاتو مرستو او همکاریو ته وهڅوی تر اوسه FAO او نړیوال سره صلیب د مرستی او همکاری ژمنه کړی.

په پای کی محترم صادق زیاته کړه : زمونږ فنی او مسلکی پرسونل شپه او ورځ په تیره ستړی کیدونکی توګه د مالدارانو خدمت ته تیار دی زمونږ ګرانو کروندګرو او مالدارانو ته ښایی چی د روانی وچکالی په وړاندی له پوره زغم او حوصلی نه کار واخلی دا یو الهی امتحان دی او په وړاندی یی باید پوره زغم ولری او د لوی خدای دربار ته د زړه له کومی توبه وباسی او خپل پام هغه سبحانه ذات ته چی خالق او رازق دی واړوی.

منقریب یك هیئت ...

هزار لینه تیلفون دیجیتل وارد کابل گردد.

این مطلب را محترم انجنیر رحمت الله رئیس تیلي کمونیکشن وزارت مخابرات به خبرنگار ما اظهار داشته افزودند : وزارت مخابرات ا.ا.ا توانست چندي قبل پول قرضه دستگاه دیجیتل کشور چین را به جانب آنکشور پرداخت نماید و قرار است در روز هاي نزدیك دستگاه متذکره با تمامي ملحقات آن به کابل انتقال یابد.

وي افزود : از جمله ۱۲۰۰۰ قطعه فورمه این دستگاه تا حال ۵۰۰۰ قطعه آن براي باشندگان شهر کابل توزیع گردیده و سلسله توزیع ان هنوز هم جریان دارد.

وي این را هم تصریح نمود که وزارت مخابرات در مقابل توزیع في فورمه دیجیتل مبلغ ۲۵۰ دالر را از نزد مشترکین به عنوان اجرت حق و نصب اخذ میدارد به این معنی که مشترکین دستگاه متذکره با تادیه ۲۵۰ دالر میتوانند مالك یك سیت تیلفون دیجیتل معه، سیم مورد ضرورت الي محل نصب تیلفون شوند.

البته اجرت ثابت ماهوار (کرایه لین) این تیلفون ۵۰۰۰ افغاني و اجرت هر مخابره پنج دقیقه یی ۱۰۰۰ افغاني تعین و تثبیت گردیده است.

اده حمل و نقل ...

داشت : این تصمیم اخیراً از جانب ریاست عمومي حمل و نقل ا.ا.ا به منظور رفع مشکلات و فراهم آوري تسهیلات هر چه بیشتر براي مسافرین ولایات متذکره اتخاذ گردیده است .

در پروگرام پرچاوي ...

منازل مسکوني شهر کابل از نعمت برق محروم میباشند.

یك منبع مسؤول ضمن تایید این مطلب به خبرنگار ما اظهار داشت : وزارت آب و برق امارت اسلامي افغانستان به منظور اینکه توانسته باشد جریان همیشگي برق شهر کابل را در زمستان پیشرو حفظ نماید روزانه ۸۰ فیصد تمامي حصص شهر کابل را یکسان تحت پروگرام عمومي پرچاوي برق قرار میدهد .

وي افزود : این پرچاوي که روزانه از ساعت ٤ صبح الي پنج عصر با ۸۰ فیصد پرچاوي و از ساعت پنج عصر الی ۸ شب با ۸ فیصد پرچاوي ادامه پیدا مینماید ، سر از فردا به احترام و گرامیداشت نماز صبح این پرچاوي صبحانه از ساعت پنج و سی دقیقه الي ساعت پنج عصر دوامدار خواهد بود.

نامبرده این را هم اضافه داشت که با گذشت هر ۲٤ ساعت سطح آب در ذخیره بند نغلو حدود ٦ سانتي متر کاهش یافته که این کاهش در امر ازدیاد پروگرام پرچاوي برق شهر کابل تاثیر بسزا دارد.

وي از شهریان متدین شهر کابل تقاضا نمود تا ضمن دعا نماز صبح از پروردگار قادر و توانا طلب باران خیر و رحمت نمایند.

فعالیت شرکت دارو ...

تعزیرات تداوم پیدا کند شش ماه بعد فعالیت تولیدي هوخست کاملاً متوقف میگردد و آنگاه تاثیرات سو این رکود بالاي صحت ۲۳ ملیون مرد و زن افغان به مراتب زیانبار تر از تعزیرات امروزي در افغانستان خواهد بود.

په ژنیو کي ...

دغه غونډه پداسی وخت کی پرانستل کیږی چی د ځمکنیو ماینونو د بندولو د نړیوال تړون د نافذیدو له وخت څخه یو نیم کال تیر شویدی. په دی غونډه کی چی پنځه ورځی به دوام وکړی هغه پر مختګونه چی د ځمکنیو ماینونو په خلاف مبارزه کی شویدی د غونډی د برخه والو لخوا څیړل کیږی.

د خوست په ولایت ...

ده ددغه ولایت د حج او اوقافو ریاست د مسؤلینو هڅو او هاند ته د اشاری په ترځ کی وویل د خوست ولایت خلکو له ارشادی تبلیغی او تنویری پروګرامونو څخه په استفادی سره نه یوازی دا چی د دینی شعایرو له بیګړو او فضیلتونو زیاته ګټه تر لاسه کړی بلکی د جوماتونو اود ښوونی او روزنی د مرکزونو جوړولو لپاره یی ګټور ګامونه پورته کړی چی د خوست ولایت د متون بابا په سیمه کی د یوه جامع جومات جوړیدل زموږ د دغی ادعا ثبوت دی او باید زیاته شی چی د دغو جوماتونو فرشونه او لودسپیکرونه د خلکو په مرسته او همکاری ددغه ولایت د حج او اوقافو ریاست لخوا برابر شویدی.

یکتن سارق دستگیر ...

که میخواست یك عراده بایسکل یکتن از هموطنان ما را سرقت نماید بالفعل دستگیر نمودند سارق بلا فاصله به پنجه قانون سپرده شد.

چیچنیایی مجاهدینو ...

دوی دغه راز په دی وروستیو وختو کی د ګروزنی په ختیځ کی د یرغلګرو روسانو په یوی زغروالی واسطی باندی برید کړیدی چی له دی امله ۲۷ تنه روسی پوځی ملیشی وژل شویدی.

د تخار ولایت مسلمانو ...

د استخباراتو لوی رئیس محترم قاری احمد الله د غونډی برخوالو ته یوه افتتاحی وینا وکړه او وېی وېل : د اسلامی امارت تاسیس ددی لپاره شوی چی د یو نیم ملیون شهیدانو په شهید پالې هیواد کی د شهیدانو د ارمانونو ممثل شرعی نظام پلی شی د هیواد ځمکنی بشپړتیا پوره او ټول مسلمان اوسیدونکی د یوه شرعی نظام تر سیوری لاندی خپل سوکاله او نیکمرغه ژوند تیر کړی .

محترم قاری احمد الله زیاته کړه : د اسلام ماتی خوړلی دښمنان زیار باسی چی د خپلو ټولو امکاناتو په کار اچولو سره زمونږ د هیواد د مسلمانو خلکو آرام ژوند ګډوډ کړی او د هغوی تر منځ دښمنی او ګرکه رامنځته کړی مونږ د تخار ولایت ټولو مسلمانو اوسیدونکو ته بشپړ ډاډ ورکوو ، چی د هغوی د سوکاله ژوند لپاره به خپله هیڅ راز سرښندنه ونه سپموو . وروسته د تخار ولایت د خلکو په استازیتوب یو تن مخور سپین ږیری محترم الحاج عبدالقدوس خبری وکړی او تخار ولایت ته د اسلامی امارت د فاتحو پوځونو د ورتګ په هکله یې وویل : د اسلامی امارت انلو ځواکونو مونږ ته له ځانه سره یو ځای امن او د اسلامی شریعت انفاذ راوړی چی مونږ یې د خپلی سیمی او اوسیدونکو لپاره الهی لوریته او احسان بولو. مونږ به د خپل ژوند تر وروستی سا پوری د اسلامی امارت له مقدسو اهدافو نه د سر په ورکولو دفاع کوو او په دی لاره کی له عالیقدر امیر المومنین سره د بیعت اعلام کوو . د محترم الحاج عبدالقدوس د بیعت اعلام د غونډی د برخوالو له خوا د الله اکبر په ملکوتی نارو سره بدرګه شو. په پای کی دغه غونډه د تخار ولایت د جهادی شخصیت محترم مولوی محمد سرور لخوا د دعایی په لوستلو سره پای ته ورسیده .

د ګډون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتنی	کلنی
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

قضات محاکم باید در فیصله ها و اجراات ...

مجید قرائت گردید بعدا محترم قاضي القضات و رئیس ستره محکمه روي موضوعات سیاسي و مسایل قضایي کشور صحبت نموده و دربخشي از سخنان خویش چنین گفتند : ا.ا.ا و نظام شرعي حاکم در کشور محافظ و نگهبان حقوق همه مردم ما میباشد : حقوق هیچ یك از اقلیت ها، اقوام، ملیت ها، طبقات و مناطق، ضایع و پامال نمیگردد تاجك، پشتون، ازبك، ترکمن، هزاره ایماق، پشه یی و بلوچ از حقوق حقه شان مستفید بوده سر، مال، ناموس و سایر دارایی هر کس محفوظ میباشد. بعضي اوقات از جانب دشمنان دین و وطن صدا بالا میشود که در افغانستان اقلیت ها از حقوق شان محروم اند، این صداي شان حلقه از سلسله تبلیغات میباشد که بر ضد ا.ا.ا صورت میگیرد، پس ملت باید به تبلیغات سو دشمنان گوش نگرفته و پروپاگند هاي شان را خنثي نمایند.

محترم قاضي القضات در رابطه به محاکم گفتند : قضات محاکم، باید در فیصله ها و سایر اجراات خویش اصول قضا و اداب فتوي را در نظر گرفته بر مسایل قوي و راجع عمل نمایند و نمیتوانند که در اجراات شان مسایل ضعیف و مرجوح را مورد عمل قرار دهند. و هم باید در استدلال بر آیات قرآني و احادیث نبوي از احتیاط و دقت تام کار بگیرند در این حالت به کتب معتبره، مذهب مراجعه نمایند که در آن تطبیق نصوص، دفع تعارضات و تفکیك مسایل قوي از ضعیف روشن شده است و هم قاضي باید بر یك کتاب اکتفا نه نموده بلکه در هر مسئله و موضوع کتب متعدد را مطالعه نموده و از آن اخذ و استفاده نمایند.

محترم رئیس ستره محکمه علاوه نمودند : قضاتیکه به اساس تصمیم گیري ستره محکمه و منظوري عالیقدر امیر المومنین از بست هاي شان به بست هاي دیگر و یا از یك جا به جاي دیگر تبدیل میشوند، بنا بر تقیدات زماني و مکاني و تقیدات وظیفوي در وضایف و جا هاي سابقه شان ، قضات شناخته نمیشوند و اجراات شان قابل قبول و مدار اعتبار نمیباشد پس باید بدون تاخیر بوظایف جدید شان حاضر شده باشند، و دوسیه هائیکه تحت دوران بوده تا هر جا که رسیده باشد، قضات سابقه دوسیه هاي متذکره را همان جا تصدیق نمایند و اجراات باقي مانده در آن دوسیه به قضات جدید تعلق میگیرد.

د کابل پوهنتون د هنرونو د ...

زده کړو وزارت د محصلانو د چارو د رئیس محترم قاری گل نبی الفت لخوا د قرآن عظیم الشان څو مبارک ایتونه ولوستل شول او وروسته د لوړو زده کړو وزیر محترم قاری دین محمد حنیف د ځوانانو د روزنی په لاره کی د استادانو او دعلمی کادر د غړو د ارزښتناک رول او د ټولنی د راتلونکی د جوړونکو په توګه د محصلانو د رول په باب اوږدی خبری وکړی او د هنری اثارو د برابرولو په لاره کی یی د هنرونو د پوهنځی د محصلانو د هڅو او نوښتونو درناوی وکړ.

وروسته په وار سره د کابل پوهنتون رئیس محترم مولوی پیر محمد روحانی د هنرونو د پوهنځی رئیس محترم مولوی گل محمد د لوړو زده کړو وزارت اداری معین محترم مولوی محمد مسلم حقانی او د عامی روغتیا وزارت معین محترم شیر محمد عباس ستانکزی د هیواد د ترقی او پرمختګ په لاره کی د علم او فرهنګ د ارزښت په باب خبری وکړی.

دغه غونډه د هنرونو پوهنځی د محصلانو لخوا د دوو تمثیلی پارچو له اجرا کیدو وروسته د لوړو زده کړو وزارت د علمي او مسلکی معین محترم قاری ذبیح الله زاهد لخوا د دعایی په لوستلو سره پای ته ورسیده.

وروسته د هنرونو د پوهنځی د محصلانو د هنری اثارو نندارتون چی د کابل پوهنتون د اړوندو پوهنځیو د منی د سمستر د لوست د پیل کیدو په ویاړ برابر شوی و د لوړو زده کړو د محترم وزیر لخوا پداسی حال کی چی د اطلاعاتو او کلتور وزارت کلتوری معین محترم مولوی عبدالرحمن احمد هوتک عامی روغتیا وزارت معین د لوړو زده کړو وزارت د مشرتابه هیأت او د کابل پوهنتون استادان او محصلان حاضر و پرانستل شو .

خبر زیاتوی په دی نندارتون کی د مینا توری سیر امیک او د خطاطی د هنری اثارو څه د پاسه یو سلو پنځوس بیلګی چی د کابل پوهنتون د هنرو نو د پوهنځی د محصلانو د مسلکی مهارتونو څرګندوی دی ننداری ته وړاندی شویدی چی د لوړو زده کړو د وزیر لخوا د ستاینی وړ وګرځیدل.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Editor: Ghulam M.Farooq
Printed by: Emirate Printing Press